# ادلیب: د عربي پسرلي وروستی سنگر!



په سوریه کې پر ادلیب باندې د برید کولو لپاره یو ځل بیا د جگړې ډولونه وهل کېږي. د بشار اسد پوځونه او ملگري یې ایران او روسیه پر ادلیب باندې چې د انقلابیونو اوه کلن سنگر دی د برید کولو هلې ځلې گړندۍ کړې دي.  اوس هره ورځ نوي خبرونه دا وي چې سوریه او ملگري یې پر ادلیب هوایي بریدونه کوي او خپل پوځونه ورنېږدې کوي، ترکیه روانه وژنه غندي او امریکا گواښونه کوي که په دې جگړه کې کیمیاوي وسله وکارول شي، مداخله به وکړي. د جگړې ټول اړخونه په ښکاره داسې څه څرگندوي چې د دوی اصلي موخې او نیتونه ورباندې پټ شي او په هغه څه چې رښتیا یې دوی سرته رسوي پټوي. مگر موږ د جگړې په اصلي موخه پوهېږو او پوهېږو چې په دې جگړه کې حقیقت او دروغ څه دي او موږ حقیقت او دروغ بېلولی شو.

اردوغان او ملگري یې خپلې کړنې داسې وړاندې کوي چې گواکي د بشار اسد پر وړاندې له انقلاب کوونکو څخه ملاتړ کوي. د ترکیې حکومت د عربي پسرلي په لومړیو کې د سوریې له پوځ څخه ملاتړ کاوه او او دوی ته یې روزنه او وسلې ورکولې او وروسته یې بیا د سوریې له ازاد پوځ څخه ملاتړ کاوه او دوی ته یې په ترکیه کې زده کړې ورکولې او وسله وال کول یې. د فرات د سیند د ډال په نامه د عملیاتو له لارې یې په ادلیب او د سوریې په شمال کې خپل پوځونه په څو اډو کې ځای پر ځای کړل.

د دې اډو د ځای پر ځای کولو ترځنگ یې د رژیم پر وړاندې له جنگېدونکو ډلو سره لږ اندازه مالي مرستې پیل کړې. مگر کله یې هم دغو جنگیالیو ډلو ته درنې او زیاتې وسلې ورنه کړلې او نه یې هم توغندي ورکړل. یوازې داسې وسلې یې ورکولې چې لنډ هدفونه یې په نښه کولی شوی او بس. د حلب په جگړه کې ترکیې پر جنگېدونکو ډلو زور واچاوه چې له حلب په شا شي او د فرات د سیند د ډال په نامه عملیاتو کې په شمالي کوردي سیمو کې مېشت شي. د ترکیې دغه کار په حلب کې جنگیالي سخت کمزوري کړل او د دی لامل شول چې د حلب ښار یې له لاسه ووزي. ترکیې مخکې په ادلیب کې جنگیالي هڅولي وو چې هغه تړون چې له روسیې او ایران سره ورباندې خبرې شوې وې تقویه کړي.

ترکیې ټینگار کاوه چې پر ادلیب پوځي برید به د یوې فاجعې لامل شي، مگر د دوی دا ټینگار د دې لپاره نه و، چې د ادلیب عام ولس وژل کېږي، دوی په ادلیب د پوځي عملیاتو په نه کولو ځکه ټینگار کاوه چې دوی نورې موخې درلودې او دغه موخې د ترکیې د ولسمشر ویاند ابراهیم کالن د سپټمبر پر ۱۴مه په یوه غونډه کې د فرانسې، جرمني او روسیې استازو ته بیان کړې، کالن وویل: (د هر چا غوښتنه دا ده چې دا موضوع باید له

سیاسي اړخه حل شي، نه له پوځي اړخه.) کالن وویل چې ټول په دې پوهېږو چې که پر ادلیب پوځي برید وشي، نو دا به یو لوی بشري ناورین رامنځته کړي او د کډوالو یو لوی سیلاب به راوکوچېږي او د مهاجرینو دا سیلاب به نه یوازې ترکیه ونیسي، بلکې ټوله اورپا به هم ونیسي. د ترکیې یوازینۍ اندېښنه دا ده چې د ادلیب مهاجرین به ترکیې ته ورشي او دا اندېښنه بلکل ورسره نشته چې د ادلیب خلک به ووژل شي. په داسې حال کې چې همدا اوس روسیې هوایي ځواکونه ادلیب بمباردوي او غواړي ځمکنیو بریدونه ته لاره اواره کړي.

روسیې خپل سمندري پوځ د سوریې څنډو ته نېږدې کړی، په دې سمندري پوځ کې ۲۵ کښتۍ، جنګي الوتکې او لوی توغندي شامل دي. د دې ترڅنګ چټکې جنګي کښتۍ هم پکې برخه لري. د کرملېن ویاند ډیمتري پېسکوف وویل چې دا تمرینونه تر ادلیب پورې غځېږي. د کریمیې په سیوستپول ښار کې د روسیې پوځي اډه له سوریې څخه یوازې ٦۰۰ میله واټن لري او د سوریې او کریمې ترمنځ ترکیه پرته ده. دا ټول پوځي تجهیزات د ترکیې د باسفور د تنګي له لارې سوریې ته ځي او ترکیه اجازه ورکوي، په داسې حال کې چې دوی وایي دوی له انقلاب کوونکو سره مرسته کوي. د ترکیې مشران په داسې حال کې په سوریه کې له برید ګرو ځواکونو سره مرسته کوي، چې دوی د عملیاتو په جزایاتو کې له دوی سره اختلاف لري.

د دې عملیاتو په اړه د امریکا استازي جان بولټون په بیت المقدس کې داسې وویل: (موږ ربښتیا هم په دې اړه اندېښنه لرو چې اسد به یو ځل بیا کیمیاوي وسلې وکاروي.) نوموړي وویل: (که د سوریې رژیم یو ځل بیا کیمیاوي وسلې وکارولې، نو موږ به په خورا چټکۍ د دوی ځواب ووایو او دوی باید په دې اړه ښه فکر وکړي.) روسیه، ایران او بشار د کلابندۍ، لوږې او بلاخره د تسلیمولو له تاکتیک څخه کار اخلي، دوی په روغتونونو، ښوونځیو او نورو بیخ بنسټونو بریدونه کوي، مګر امریکایي چارواکي یوازې د کیمیاوي وسلو د کارولو نیوکه ورباندې کوي، په داسې حال کې چې څو ځله بشار پر ملکي خلکو کیمیاوي وسلې کارولي دي او امریکا یې پر وړاندې هېڅ هم نه دي کړي. دا اوه کاله امریکا یوازې د بشار پر رژیم تشې نیوکې کړې دي او بس چې دا خپله د سوریې له رژیم څخه یو ډول سیاسي ملاتړ دی.

د بشار اسد لپاره به د ادلیب بېرته نیول یوه لویه کامیابي ونومول شي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۵ کال کې بشار د هېواد زیاته برخه له لاسه ورکړې وه او اوس یې بېرته ورو ورو تر لاسه کوي، چې دا به د نوموړي د رژیم په قانوني توب یو سمبول ونومول شي. روسیه، ایران او سوریه داسې تبلیغات کوي چې ګواکې دوی په ادلیب کې د ترورستانو پر وړاندې جګړه کوي او د دوی دا ادعا به د دوی جرمونه پټ کړي. په ورته وخت کې بشار داسې څرګندوي چې ګواکې د ترکیې او سوریې موخې سره بېلې دي او سوریه په پرلپسې توګه پر اردوغان تور لګوي چې تروریستي ډلې حمایه کوي. په داسې حال کې بشار او اردوغان په ځینو موضوعاتو کې له یو بل سره موافق نه دي، مګر د انقلاب کوونکو پر وړاندې دواړه یو موقف لري او یوازې دوی د انقلابیونو د له منځه وړلو په اسلوب کې مخالفت لري.

مګر دا هم باید په یاد ولرو چې د ادلیب نیول دومره اسانه هم نه دي. د ادلیب نیول د سوریې د جنوبي سیمو تر نیولو سخت او پېچلي دي. ادلیب تر درعا، غوطې او قنطیرې لویه او پراخه سیمه ده. همدارنګه په ادلیب کې خورا زیات جنګیالي مېشت دي او هغه جنګیالي چې د سوریې د جنوب د کلابندۍ په وخت کې وتښتېدل ټول ادلیب ته راغونډ شول. بشار کېدی شي په ادلیب کې له یوه زیات شمېر جنګیالیو سره مخامخ شي، په داسې حال کې د سوریې په جنوبي سیمو کې دومره جنګیالي نه وو، نو دا به یوه داسې جګړه وي چې سختې وینې به پکې وبهول شي، ډېره قیمته به پریوځي او وړاند وبینه یې هم سخته ده. که څه هم بشار په وروستیو کې د هېواد زیاته برخه تر خپلې ولکې لاندې راوستلې ده، مګر پوځ یې اوس هم په دې نه دی توانېدلی چې برید کوونکي او تهاجمي جنګونه وکړي، بلکې یوازې په نیول شوو سیمو کې د ګارنیزون د پوځونو غوندې دندې سرته رسوي. دا په دې دلالت کوي چې د سوریې جګړې د سوري پوځ ته سخته ضربه ورکړې ده او سخت زیانونه یې

ليدلي دي او د پوځ زيات تجربه لرونکي او ښه روزل شوي کسان يې له منځه تللي دي او دا کمزروي به انقلاب کوونکي وهڅوي چې د سوريې په نورو سيمو کې د بشار رژيم ته گواښونه پيدا کړي.
په پای کې ويلی شو چې د سوريې راتلونکی برخليک د سوريې د خلکو په لاس کې نه دی. د سيمې قدرتونه او همدارنگه نړيوال قدرتونه سيالي کوي چې د سوريې په يوه برخه کنټرول ولري او د اووه کلنې جگړې د پای ته رسولو وروسته يې د خپلو موخو او نفوذ لپاره وکاروي. د اسلامي نړۍ لپاره دا ډېر لوی شرم دی چې په ادليب کې له پېښېدونکي ناورين او عام وژنې سره مرسته کوي. د دې غدر او خيانت په لومړۍ کرښه کې ترکي مشران دي، هغه مشران چې له روسيې او امريکا سره يې په پټه د ادليب د ويجاړولو توطيه جوړه کړې ده.

**ليکوال: عدنان خان**

**ژباړه: انجنير احرار**